د چارو اداره

دویمه ګڼه | لومړی کال | ۱۴۰۳-۱۴۴۶



# اداره امور

- جلسه هماهنگی به منظور جلوگیری از ازدحام شهری و ترویج فرهنگ شهرنشینی برگزار شد
- جلسه تعقیبی در مورد ساده سازی حق مالکیت و طرح پیشنهادی چتر واحد برگزار گردید
- قرارداد ساخت یک مارکیت تجارتی در شهر جلال آباد به امضاء رسید
- محفل افتتاحیه امتحان الکترونیکی ده‌ها بست وزارت صحت عامه برگزار شد

بسم الله الرحمن الرحيم



## د ښاري فرهنگ د رواجولو او د ښاري گڼې گوڼې د مخنيوي په موخه د همغږۍ غونډه وشوه


د چارو اداري لوى رياست د ودانيزو چارو د طرح او ډيزاين رئيس عمار زمرک ياسر په مشرۍ د ښاري فرهنگ رواجولو او ښار کې د گڼې گوڼې د مخنيوي کمېټې د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

دغه غونډه چې نن (چهارشنبه شعبان المعظم ۲۷مه/ کب ۸مه) د چارو اداري لوى رياست د غونډو تالار کې ترسره شوه، پکې د کور او ښارو جوړولو، اوبو او انرژۍ وزارتونو، کابل ښاروالۍ، د چاپيريال ساتنې ملي اداري او د ترافيکو عمومي رياست استازو گډون کړی و.

غونډه کې گډونوالو د جوړې شوې طرحې د ادرسنگ، د جي پي ايس سيستم نصب، له امنيتي کمرو څخه گټې اخيستنې، لاسي پلورونکو ته د بازار جوړولو، پلېو لارو څخه د کراچيو او موانعو لرې کولو د تطبيقي طرزالعمل په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړل.

د طرح او ډيزاين رئيس د گډونوالو نظرونه او وړانديزونه په دقت سره واورېدل او پرېکړه يې وکړه چې اړوندې اداري دې د ښاري فرهنگ د رواجولو او ښار کې د گڼې گوڼې مخنيوي په موخه خپلې طرحې او وړانديزونه د چارو اداري لوى رياست د ودانيزو چارو د طرح او ډيزاين رياست سره شريکې کړي تر څو يې په راتلونکې غونډه کې په اړه پرېکړې وشي.

ياده غونډه چې د قران کريم په تلاوت پيل شوې وه، د خير په دعا پای ته ورسېده



## جلسه تعقیبی در مورد ساده سازی حق مالکیت و طرح پیشنهادی چتر واحد برگزار گردید

پنجمین جلسه کمیته تخنیکی به منظور ترتیب طرزالعمل جهت تطبیق فیصله دوم حکم شماره (۳۷۵/۲۷۰۸) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی به ریاست مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه گذاری ریاست عمومی اداره امور برگزار شد.

این جلسه امروز یکشنبه (۲۴ شعبان/پنجم حوت) در تالار جلسات این اداره تدویر گردید که در آن نمایندگان وزارت‌های شهر سازی و مسکن، عدلیه، زراعت آبیاری و مالداری، مالیه، شاروالی کابل، ریاست عمومی انسجام امور شاروالی ها و ریاست اقتصاد ملی و زیربناهای اداره امور حضور داشتند.

رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور ضمن خوش آمدید به اشترک کنندگان گفت که ادارات امارتی تلاش نمایند تا زمینه آبادی و تسهیلات بیشتر را به مردم فراهم نمایند و مانع کار و سرمایه گذاری شهروندان کشور نشوند.

در این جلسه، نمایندگان ادارات اشتراک کننده در مورد طرح پیشنهادی ایجاد چتر واحد صدور مجوز و ساده سازی تثبیت حق مالکیت برای ملکیت های شخصی در ساحات پلان های شهری به مقصد صدور مجوز بحث‌های همه‌جانبه نمودند.

رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری اداره امور نظریات و پیشنهادات اعضای جلسه را استماع نمود و گفت که نیاز است بیشتر در مورد ساده سازی طرزالعمل و طرح های مذکور کار بیشتر صورت گیرد تا در جلسه بعدی تصامیم لازم اتخاذ گردد.

این جلسه که با تلاوت قرآن‌کریم آغاز شده بود با دعای خیر پایان یافت.




## د عامې روغتیا وزارت د ۲۱۹ بستونو الکترونیکي ازموینې پرانیستغونډه جوړ شوه

د چارو اداري لوی ریاست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي متخصصینو د جذب په موخه د ۲۱۹ مسلکي او تخصصي بستونو د الکترونیکي ازموینې پرانیستغونډه ترسره شوه.

دغه غونډه نن یکشنبه (شعبان المعظم ۲۴ مه/کب ۵مه) د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو انستیټیوټ د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، په کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري رئیس، د عامې روغتیا وزارت معینانو، د دغه وزارت مختلفو برخو رئیسانو او په شرایطو برابر کاندیدانو ګډون کړی و.

په غونډه کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري رئیس مولوي محمد طاوس طارق وویل، هغو کسانو ته چې په دې الکترونیکي ازموینه کې برخه اخلي؛ ډاډ ورکوم چې په بشپړ شفافیت به یاده پروسه پرمخ یوسي او دا یې خپله فریضه وبلله.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو رئیس د عامې روغتیا وزارت د دغه ریاست د ازموینې په برخه کې د عامې روغتیا وزارت له باور څخه قدرداني وکړه او زیاته یې کړه چې د وړ کسانو د ګومارنې په موخه دغه اداري ته تش بستونه سپارل یو امانت دی.

بل لور ته د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو معین مولوي عبدالولي حقاني، غونډې ته په وینا کې وویل چې موږ د لوړ کیفیت روغتیایي خدماتو وړاندې کولو ته ژمن یو او کوشش کوو چې تر ټولو غوره متخصصین جذب او وګومارو. هغه د طب اهمیت ته په اشاره وویل، طبابت یوه ډېره مهمه دنده ده چې د اسلام مقدس دین ورته لوړ ارزښت ورکړی.

د یادونې وړ ده په دې مرحله کې د عامې روغتیا وزارت د ۲۱۹ مسلکي او تخصصي بستونو لپاره ۳۰۳ تنو نوم لیکنه کړې وه چې له جملې څخه یې ۲۴۳ کسان د الکترونیکي ازموینې لپاره په شرایطو برابر پېژندل شوي چې نن له هغوی څخه ازموینه واخیستل شوه.

دغه غونډه چې د قرانکریم په تلاوت سره پیل شوې وه، د خیر په دعا پای ته ورسیده

# معاون امور فرهنگی و اجتماعی با شماری از بزرگان، متنفذین قومی و جوانان ولسوالی بهسود دیدار کرد

نور محمد حیدری معاون ریاست امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی اداره امور، به منظور بررسی و حل مشکلات بزرگان، متنفذین قومی و جوانان ولسوالی بهسود ولایت میدان وردک با آنان دیدار کرد.

این جلسه امروز پنجشنبه (۲۱ شعبان المعظم/ دوم حوت) در تالار جلسات ریاست عمومی اداره امور برگزار شد، که در ابتدا نور محمد حیدری معاون ریاست امور فرهنگی و اجتماعی، ضمن استقبال از حضور مهمانان گفت؛ تا اکنون ده‌ها نشست را با اقشار مختلف کشور برای شنیدن مشکلات آنان برگزار کرده اند.

وی اضافه کرد که اداره امور حیثیت پل ارتباطی میان مردم و رهبری امارت اسلامی افغانستان را دارد و همواره در تلاش بوده است تا مشکلات تمامی اقشار جامعه را حل نماید.

از جانب دیگر، بزرگان، متنفذین قومی و جوانان ولسوالی بهسود ولایت میدان وردک، ضمن ابراز خوشحالی از حاکمیت امارت اسلامی، مشکلات خود را مطرح کردند.

آن‌ها اظهار داشتند که حکومت قبلی در فساد غرق بود، به همین دلیل بسیاری از پروژه‌های این ولسوالی، از جمله پروژه سرک گردن دیوال نیمه‌کاره باقی مانده اند که مشکلات زیادی برای مردم ایجاد کرده است.

آنان همچنان خواستار همکاری در زمینه ساخت کلینیک‌ها، مکاتب، جاده‌ها، مساجد، دیوارهای استنادی در مناطق دوردست این ولسوالی شدند و علاوه بر این در قسمت حمایت از دهاقین تاکید ورزیدند.

در اخیر، معاون ریاست امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی اداره امور گفت، امارت اسلامی در تلاش است تا پروژه‌های زیربنائی را در مناطق مختلف کشور اجرا کند و اطمینان داد که مشکلات مطرح‌شده را برای حل، با مسؤولان امارت اسلامی در میان می‌گذارد.

این جلسه که با تلاوت قرآنکریم آغاز گردیده بود با دعای خیر به پایان رسید.

## د متون مينې په مسير د لښتيو چارې بشپړې شوې




د خوست ښاروالۍ له لوري، د متون مينې په مسير، د ورغې کلي دوهم لين سړک تر جوړېدو وروسته، د پخواني سړک د خونديتوب په موخه، د ۲۰۰ مترو په اوږدوالي د لښتيو جوړيدو چارې بشپړې شوې.

دغه چارې، چې د ۹ میلیونو افغانیو په ارزښت ترسره شوې، د بشپړ نظارت لاندې تکمیل شوې.

يادونه بايد وشي، چې د دې لښتيو له جوړېدو سره، سړکونه د اوبو د تخريب څخه خوندي شول، او خلک يې له ستونزو څخه وژغورل.

ډېر ژر به ياده پروژه ګټې اخيستنې ته وسپارل شي



# قرارداد ساخت یک مارکیت تجارتی در شهر جلال آباد به امضاء رسید

قرارداد ساخت یک مارکیت تجارتی در شهر جلال آباد میان ریاست عمومی انسجام امور شاروالی‌های اداره امور و شرکت انجنیری و ساختمانی المدینه به امضاء رسید.

نشستی به همین مناسبت امروز پنجشنبه (۲۱ شعبان المعظم /دوم حوت) در تالار جلسات ریاست عمومی اداره امور برگزار شد که در آن معاون مالی و اداری ریاست عمومی اداره امور، رئیس عمومی انسجام امور شاروالی‌ها، رئیس تسهیل سرمایه گذاری و رئیس شرکت انجنیری و ساختمانی المدینه حضور داشتند.

در این نشست مولوی محمود شاه زاهد، معاون مالی و اداری ریاست عمومی اداره امورگفت: امارت اسلامی برای ایجاد یک افغانستان مستقل و خودکفا تلاش می‌کند و از تمامی سرمایه‌گذارانی که در کشور سرمایه‌گذاری می‌کنند، حمایت کرده و برای ایشان تسهیلات لازم را فراهم می‌نماید.

همچنان مولوی محمد اسحق آخندزاده، رئیس عمومی انسجام امور شاروالی‌ها، در سخنانش گفت که سرمایه‌گذاران باید با نیت خدمت و ثواب در کشور سرمایه‌گذاری کنند و از این طریق به هموطنان خود کمک نمایند تا سطح بیکاری در کشور کاهش یابد.

از جانب دیگر الحاج نقیب‌الله مایار وردک، رئیس شرکت ساختمانی و انجنیری المدینه تعهد خود را نسبت به اجرای این پروژه اعلام کرد و تاکید نمود که کار ساخت این مارکیت تجارتی بگونه معیاری و در زمان تعیین‌شده انجام می‌شود.

قابل ذکر است که این مارکیت تجارتی در ناحیه دوم شهر جلال آباد مرکز ولایت ننگرهار، موقعیت دارد و قرار است در زمینی به مساحت ۳۱۴۸ متر مربع مربوط به شاروالی این ولایت در هفت طبقه و با سرمایه‌گذاری ۲۶۸,۹ میلیون افغانی در مدت دو سال ساخته شود که دو طبقه اول آن زیر زمینی بوده و برای پارکینگ وسایط نقلیه اختصاص گردیده است و در پنج طبقه بالایی آن به طور مجموعی ۱۶۷ باب دوکان در نظر گرفته شده است.

در اخیر، قرارداد یاد شده توسط مسؤولان ریاست عمومی اداره امور و شرکت ساختمانی و انجنیری المدینه امضاء شد و این نشست که با تلاوت قرآن کریم آغاز گردیده بود، با دعای خیر به پایان رسید.



## د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس د شينوارو قوم علماوو، قومي مخورو او ځوانانو سره وليدل

د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس مولوي محمد رباني ناصح د ننګرهار ولايت د شينوارو قوم علماوو، قومي مخورو او ځوانانو سره د هغوی د ستونزو حل په موخه وليدل.

دغه غونډه چې نن چهارشنبه (رمضان المبارک ۵مه/کب ۱۵ مه) د چارو اداري لوی رياست د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، په پيل کې د فرهنګي او ټولنيزو چارو رياست مرستيال ښاغلي نورمحمد حيدري ګډونوالو ته د غونډې په اړه ابتدايي معلومات وړاندې کړل او د اجنډا اړوند يې وضاحت ورکړ.

په غونډه کې د شينوارو شپږ ګونو ولسواليو علماوو، قومي مخورو او ځوانانو په نوبت سره خبرې وکړې او په دغو ولسواليو کې يې د سړکونو، ښوونځيو، کلنيکونو، بندونو، استنادي دېوالونو او جوماتونو په برخه کې خپلې ستونزې او مشکلات شريک کړل او د بې ځايه شوو کډوالو په اړه يې د لازمو مرستو غوښتنه وکړه.

همدا راز يې زياته کړه چې د شينوارو ولسونه د برېښنايي تذکرو په اړه له زياتو ستونزو سره مخ دي او غوښتنه يې وکړه چې يادو ولسواليو ته دې د احصايې يو مرکز پرانيستل شي او همدارنګه يې د کابل ميشتو شينوارو لپاره د هديرې ځمکې وړانديز وکړ.

د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس د شينوارو ولسواليو استازو ستونزې او مشکلات په غور سره واورېدل او ډاډ يې ورکړ چې ستونزې به يې د حل په موخه له اړوندو ادارو سره شريکې کړي.

دا غونډه چې د قرانکريم په تلاوت سره پيل شوې وه، د خير په دعا پای ته ورسېده.



# یو باب کور خپلې اصلي مالکې ته وسپارل شو

د چارو ادارې لوی ریاست د کورونو او جایدادونو د څېړنې او تحت تأمین ریاست د کابل ښار نهمې ناحیې اړوند دریم مکرویان سیمه کې یو باب کور له هر اړخیزې څېړنې وروسته خپلې اصلي مالکې ته وسپاره.

نن سه شنبه د ( کب ۱۴مه/ رمضان المبارک ۴مه) د کورونو او جایدادونو د څېړنې او تحت تأمین ریاست یو تن مسؤول مولوي لعل محمد وویل د دې کور اصلي مالکې څه موده وړاندې د کور ترلاسه کولو لپاره عریضه کړې وه چې د اسنادو له هر اړخیزې څېړنې وروسته د امنیتي مسؤولینو، د گذر وکیل او د کورونو او جایدادونو د څېړنې او تحت تأمین ریاست د مسؤولینو په شتون کې یاد کور خپلې اصلي مالکې ته وسپارل شو.

د یاد کور مالکې قدسیه بنت علي محمد د چارو ادارې لوی ریاست د کورونو او جایدادونو د څېړنې او تحت تأمین ریاست څخه د کور سپارلو له امله مننه وکړه.

د یادونې وړ ده چې د چارو ادارې لوی ریاست د کورونو او جایدادونو د څېړنې او تحت تأمین ریاست له مسؤولو بنسټونو سره په همغږۍ هڅې کړې ترڅو حق خپل حقدار ته وسپاري د افغانستان اسلامي امارت د بیا له واکمنېدو راهیسې لسگونه بابه کورونه له هر اړخیزې څېړنې وروسته خپلو اصلي مالکانو ته سپارلي.



## نشستی در مورد طرح ایجاد مجتمع های زراعتی، مالداری و صنایع زراعتی در پنج حوزه آبی برگزار شد

نشستی به منظور بحث روی طرح ایجاد مجتمع های زراعتی، مالداری و صنایع زراعتی در پنج حوزه آبی کشور با اشتراک نمایندگان ادارات ذیربط به ریاست انجنیر مولوی احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور برگزار شد.

این نشست امروز چهارشنبه (پنجم رمضان المبارک/۱۵ حوت) در تالار عمومی ریاست عمومی اداره امور با اشتراک نمایندگان وزارت های زراعت، آبیاری و مالداری، مالیه، صنعت و تجارت و شرکت سپین زر کندز با تلاوت قرآن کریم آغاز شد.

رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور ضمن خوش آمدید اشتراک کنندگان در جلسه گفت که اکنون در افغانستان برای همه سرمایه گذاران زمینه سرمایه گذاری مساعد شده است، افغانستان خانه مشترک همه مردم است و برای آبادی آن همه با هم کار نمائیم تا یک کشور آباد داشته باشیم.

در این نشست داکتر اسدالله کریمی، متخصص بخش زراعت و مالداری در مورد طرح مذکور به اشتراک کنندگان در چوکات پرزنتیشن معلومات همه جانبه ارائه کرد؛ سپس اشتراک کنندگان نظریات خویش را شریک ساختند.

انجنیر مولوی احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه گذاری پیشنهادات و نظریات اشتراک کنندگان را به دقت استماع نمود و فیصله نمود که جهت رسیدن به هدف، تمام موارد طرح را نمایندگان ادارات مربوط با ریاست تسهیل سرمایه گذاری شریک سازند تا در جلسه تخنیکی بعدی جهت نهایی سازی آن بحث همه جانبه شود.

این جلسه با دعای خیر پایان یافت.

# اوومه ناحیه کې د 6.6 میلیونه افغانیو په ارزښت

## د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې جریان لري

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ (UNOPS) موسسې په تخنیکي همکارۍ د اوومې ناحیې په ۱٦ گذر کې د ۸۸۰ مترو په اوږدوالي، د ٤ مترو په لنډوالي د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې جریان لري.

د جلال اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجینر وحیدالله مخلص او ورسره مل پلاوي د پروژې له کارونو له نږدې لېدنه وکړه او د شرکت مسولینو ته یې د چارو د ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

په دغه پروژه کې د سیمې ۱۲۰ تنه اوسېدونکي کار کوي. کارونه یې ۹۰ سلنه بشپړ شوي. په نږدې راتلونکې کې به گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوسېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي وښوده او په راتلونکې کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او بیړنیو لومړني خدمتونو وړاندې کول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو موسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.





## د پایلو پر بنسټ د کلني پلان او راپور ورکولو طرحې په اړه ورکشاپ ترسره شو

د چارو اداري لوی ریاست د پلان، ارزونې او امارت د راپورنو د تحلیل ریاست له لوري د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم د تطبیق په موخه د پایلو پر بنسټ د کلني پلان او راپور ورکولو طرحې په اړه ورکشاپ ترسره شو.

دا ورکشاپ چې دوشنبه «رمضان المبارک ۱۰مه/ کب۲۰ مه» د چارو اداري لوی ریاست د پلان، ارزونې او امارت د راپورونو د تحلیل ریاست په مشرۍ ترسره شوه، په کې د وزارتونو او امارتي ادارو د پلان او پالیسۍ رئیسانو او مسؤولینو ګډون کړی و.

په دې ورکشاپ کې د چارو اداري لوی ریاست د امارت د پالیسۍ مرستیال مولوي عبدالباري عاطف وویل چې وزارتونه او امارتي اداري دې خپل عمده فعالیتونه په خپلو کلنیو پلانونو کې ځای په ځای کړي او د چارو اداري لوی ریاست سره دې شریک کړي، تر څو له دې لارې د امیرالمؤمنین حفظه الله مقام ته وړاندې شي.

په دې ورکشاپ کې د پلان، ارزونې او امارت د راپورنو د تحلیل ریاست مرستیال احمد یما احساس د پایلو پر بنسټ د کلني پلان او راپور ورکولو طرحې په اړه تفصیلي پریزنتیشن وړاندې کړ، وروسته ګډونوالو د یادو طرحو په اړه پوښتنې، نظریات او وړاندیزونه شریک کړل.

په پای کې د چارو اداري لوی ریاست د پلان، ارزونې او امارت د راپورنو د تحلیل رئیس حافظ مولوي محمد حنیف ازاد د ورکشاپ د ګډونوالو له ګډون څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې وزارتونه او امارتي اداري دې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم پر اساس خپل فعالیتونه او پلانونو تنظیم کړي او په پوره اخلاص دې د اسلامي نظام لپاره کار وکړي.

دا ورکشاپ چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوې وه، د خیر په دعا پای ته ورسېده.



## یک باب اپارتمان به مالک اصلی آن تسلیم داده شد

یک باب آپارتمان از جانب ریاست بررسی منازل و جایدادهای تحت تأمین ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان در ساحه خوشحال خان واقع ناحیه پنجم شهر کابل بعد از بررسی همه‌جانبه اسناد آن به مالک اصلی‌اش تسلیم گردید.

امروز شنبه (۱۵رمضان المبارک/۲۵ حوت) مولوی لعل محمد برهانی، یک تن از مسؤولان ریاست بررسی منازل و جایدادهای تحت تأمین امارت گفت که به اثر تلاش و بررسی مسؤولان این ریاست، یک باب اپارتمان جهت جلوگیری از غصب که قبلاً مهر و لاک گردیده بود، پس از دریافت اسناد اصلی و طی مراحل آن، اکنون به صاحب اصلی آن تسلیم داده شد.

نور آغا فرزند غلام سخی باشنده اصلی ولایت پکتیا، مالک اصلی اپارتمان مذکور پس از تسلیمی اپارتمان خویش از کمک و همکاری ریاست بررسی منازل و جایدادهای تحت تأمین ریاست عمومی اداره امور ابراز خرسندی نمود.

قابل یادآوری است که ریاست بررسی منازل و جایدادهای تحت تأمین ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی با هماهنگی نهادهای ذیربط تا اکنون ده ها باب منزل و آپارتمان را به مالکان اصلی آن تسلیم نموده و این روند ادامه دارد.

# د ملي تداركاتو رئيس د افغانستان لپاره د قزاقستان د سوداګرۍ له رئيس سره وليدل

د چارو اداري لوی رئيس د ملي تداركاتو رئيس مولوي عبدالباقي منصور، د افغانستان لپاره د قزاقستان د سوداګرۍ له رئيس ارمان ياسين تايوف سره وليدل او د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو او اقتصادي همکاريو د پراخولو په اړه يې خبرې وکړې.

دا ليدنه نن چهارشنبه (رمضان المبارک ۱۹مه/کب ۲۹مه)، د ملي تداركاتو ادارې په مقر کې ترسره شوه، په کې دواړو لوريو د سوداګريزو معاملاتو د اسانتيا، همغږۍ پياوړتيا او د ګډې پانګونې فرصتونو د ارزولو په اړه بحث وکړ.

د ملي تداركاتو رئيس مولوي عبدالباقي منصور د قزاقستان له سوداګريزو همکاريو هرکلی وکړ او د امارتي ادارو د اساسي اړتياوو پوره کولو او د دواړو هېوادونو د اقتصادي ودې يې ټينګار وکړ.

د ملي تداركاتو رئيس وويل: افغانستان په ټولو برخو کې پانګونې اړتيا لري او موږ له قزاقستان سره د پراخو سوداګريزو اړيکو غوښتونکي يو.

بل لور ته د قزاقستان د سوداګرۍ رئيس ارمان ياسين تايوف، له افغانستان سره د اقتصادي اړيکو د پراختيا لپاره د خپل هېواد پر ژمنتيا ټينګار وکړ.

نوموړي وويل چې د قزاقستان شرکتونه چمتو دي، ترڅو د افغانستان لپاره د اړتيا وړ توکي او خدمات برابر کړي.

نوموړي زياته کړه چې قزاقستان لومړنی هېواد دی، چې د افغانستان د سوداګريزو توليداتو تر ټولو لوی نندارتون يې جوړ کړ او اوس د اسلامي امارت او قزاقستان سوداګريزې اړيکې په لوړه کچه دي.

د دې ليدنې په پای کې دواړو لوريو موافقه وکړه، چې د سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا او دوه اړخيزو همکاريو لپاره بايد يو تفاهم ليک ترتيب شي، تر څو يې پر بنسټ پرمختګ وشي.

ياده غونډه د قرانکريم په تلاوت پيل او د خير په دعا سره پای ته ورسېده.





# طرزالعمل های تقرر، تبدیل و عزل وکلای گذر بازنگری گردید

نشست هماهنگی به منظور تدقیق و بازنگری طرزالعمل های تقرر، تبدیل و عزل وکلای گذر و مجالس مشورتی ریاست عمومی انسجام امور شاروالی های اداره امور با اشتراک نمایندگان ریاست های مرتبط به رهبری مفتی سعید احمد حمدان، رئیس امور حقوقی، تقنینی و قضایی ریاست عمومی اداره امور برگزار شد.

این جلسه امروز پنجشنبه (۲۱ شعبان المعظم/دوم حوت) در تالار جلسات ریاست عمومی اداره امور با تلاوت قرآن کریم آغاز شد؛ سپس نمایندگان ریاست عمومی انسجام امور شاروالی ها، اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی، تدارکات ملی، ریاست امور کادری، اصلاحات و بازنگری تشکیلات امارت و ریاست پالیسی و استراتیژی این اداره در مورد طرزالعمل های یاد شده بحث و تبادل نظر نمودند.

رئیس امور حقوقی، تقنینی و قضائی ریاست عمومی اداره امور نظریات و پیشنهادات اشتراک کنندگان جلسه را استماع نمود و هدایت داد که با هماهنگی و توجه به دیدگاهای ریاست عمومی انسجام امور شاروالی ها طرزالعمل های یادشده بازنگری شود و با در نظر گرفتن نظریات ریاست های مرتبط طرزالعمل های مذکور جهت اخذ تصمیم نهائی به جلسه بعدی ارائه گردد.

این جلسه با دعای خیر پایان یافت.

“ ”

اسلامي امارت د خلکو لپاره یو نعمت دی او په ټولو برخو کې متوازن پرمختګ کړی دی.

اسلامي امارت په هېواد کې امن راوستی، چې له امله یې علم ته ښه زمینه برابره شوې ده.

هېوادوال باید خپل ماشومان د علم زده کړې ته واستوي.

شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور
د چارو ادارې لوی رئیس

aop.gov.af